

# د خوست قلندر ولسوالۍ ته لنډه کتنه

خوست ولایت چاپېره سرخدونه په دنگو او زرغونو ځنگلونو پوښل شويو غرونو باندې احاطه شوی چې د ځانگړي ښایست او طبیعي ارزښت لرونکي دي، خوست هر لوری د ځانگړي ارزښت او ښکلا څخه برخمن دی، د خوست ښار شمال لوری هم لوړو غرونو او ښکلو درو له اړخه غني دی پر همدې مسیر د موسی خېلو او قلندر ولسوالۍ موقعیت لري، پریمانه اوبو، طبیعي منظرو شنه ځنگلونو او صافې هوا دغو سیمې ته ځانگړې ښکلا وربښلي ده. شمال لوري مزل یخ شمال زیاتوي څومره چې د غرنیو سمیو ته مزل کیږي نو د غرونو سرونو ته نیږدې کیږي او آن د خوست تر لوړې نقطې (قلندر بابا) زیارت ته په رسیدو به د ټول خوست او آن د ټل، میرام شاه ننداره به وکړلی شئ. نو د قلندر ولسوالي چې د خوست ښار په شمال کې تقریباً (50km) کې موقعیت لري چې زیاته برخه یې په غرونو پوښل شوي، شمال لوري ته یې د موسی خېلو ولسوالۍ سیمې جنوب لوري ته یې موسی خېل او د نادرشاه کوټ ولسوالۍ، ختیځ ته یې موسی خېل او لویدیځ ته یې نادشاه کوټ او د پکتیا ولایت وزې ولسوالي موقعیت لري. د قلندر ولسوالي جعرافیې جوړښت له مخې په عمومي توگه په دؤ لویو دریو ( په سمیزه لهجه نارو)، قلندر او میشته باندې ویشل شوي، دواړو درې له یو بل څخه په لویو غرونو جلا شوي چې دغه غرونه له ختیځ څخه د لویدیځ په لور پرته دي. د قلندر ولسوالۍ د قلندر دره د موسی خېلو ولسوالۍ پر مسیر دوه منده له پل څخه په تیریدو لویدیځ لوري گرځیدو سره پیل کیږي چې لومړی کلی په دغه دره کې د وایي په نوم چې موسی خېلو ولسوالۍ پورې مربوط  کلی دی موجود دی له هغه څخه په تیریدو سره لویه غرنۍ تنگه دره چې دواړو لوریو ته په ځنگلونو پوښل ښوي چې په همدې مسیر تر نیم ساعت مزل وروسته د قلندر ولسوالۍ قلندر درې لومړنی کلی د لنډي په نوم نومول شوی د همدغه درې له لویو کلیو څخه شمېرل کیږي، زراعتي ځمکه یې هم زیاته ده، د هغه بلې درې (میشتې) سره یو فرعي وصل کیدونکي لاره هم د جنتۍ خولې څخه د لام خون غره پر مسیر د ښارکي کلي ته اوښتې ده چې د اړتیا پر مهال ورڅخه د تگ او راتگ لپاره استفاده کیږي خو د کوچنیو موټرو د تگ لپاره ستونزمنه ده. وریسې د منې په نوم کوچنی کلی دی، د قلندر درې دریم مرکزي او لوی کلی د سترکوټ په نوم یادیږي چې په لویدیځه برخه کې د نادرشاه کوټ ولسوالۍ ځینو خېلو (خیریسفان سیمې) سره نښلیدونکی سرک هم شتون لري چې د دغې درې اوسني سړک د جوړیدو څخه مخکې به ځینې وختونه د ځینو خېلو له سرک څخه هم د تگ او راتگ استفاده کیدله، له سترکوټ وروسته د قلندر درې بل کوچنی کلی د مني خېلو په نوم او هغه ته مخامخ د ورغه په نوم بل کلی موجود دی.

د قلندر ولسوالۍ د قلندر درې پر عمومي مسير (سرک) بل د کوټکي په نوم کلی موقعيت لري، د کوټکي کلي په لويديځه برخه کې دوه مشهور زيارتونه پر يو ځای شتون لري چې يو (رحمين آقا او بل د ليواني آقا) په نومونو ياديږي، دغو زيارتونو ته د سيمې خلک د تبارک لپاره ورځي، له کوټکي په تيريدو سره لويديځ لوري غره کې د پنگه په نوم د څو کورونو کوچنی کلی دی، ورپسې د عمومي سرک په مسير د درويښۍ کلی او له هغې وروسته د شينکي نسبتاً لوی کلی او د قلندر ولسوالۍ د قلندر درې وروستی کلی د کمران په نوم موجود دی.

د قلندر ولسوالۍ دوهمه دره د ميشتې په نوم ياديږي چې د لومړۍ (قلندر) درې په شمال کې په موازي شکل د غرونو په منځ کې موجوده ده، د موسی خېلو ولسوالۍ له عمومي سرک څخه د څندي کلي شمالي برخه کې لاره جلا کيږي چې د سرک پر همدې مسير د ښارکي په نوم کلی چې د موسی خېلو مربوط دی له هغه څخه په تيريدو د قلندر ولسوالۍ ميشتې درې لومړۍ کوچنی کلی د ملوگۍ په نوم پيل کيږي، د ميشتې درې دويم کلی د خوست ميلې په نوم لوی کلی دی چې درې فرعي کلي(څپری، طولبه، خوست ميله) هم لري موجود دی، د خوست ميلې او ملوگۍ کليو تر منځ يو زيارت د (زيړي پير) په نوم شتون لري. د ميشتې درې دريم کوچنی کلی د سرواني په نوم دي، له هغه وروسته بل لوی کلی د تورښاره او د هغه مخامخ لويديځ لور ته د لنډرې په نوم بل کلی موجود دی، د ميشتې درې په عمومي مسير د عاليگاه په نوم کوچنی کلی او له هغه وروسته د اسمان کوټ ( په سميزه لهجه ټنډی) د غره پر سر باندې کلی دی چې د همدغه کلي د غره په سر باندې يو کوچنی زيارت هم شتون لري، ورپسې د څو کورو کلی د ريز يا ريزو په شتون لري، چې له ريز څخه وروسته د ميشتې دره بيا په دؤ برخو ويشل کيږي، ښي طرف ته د لومړۍ د مزري يا زمريو دره او بل وروستی کلی د مل په نوم او چپ لوري دره کې بيگالي کلی او اخيري لوی کلی د شريفي په نوم موجود دی چې د شريفي په کلي کې يو مشهور زيارت (د شريفي ناستې) په نوم شتون لري. دغو وروستيو کليو زراغتي ځمکې کمې خو غرونو يې په ځنگلونو پوښل شوي، د قلندر ولسوالۍ دواړو درو کلي اکثره کلي د غرونو په لمنو يا د غونډيو پر سرونو باندې جوړ شويدي.

## قلندر بابا زيارت

د قلندر ولسوالۍ نوم د همدغې ولسوالۍ له يو مشهور زيارت سره رابطه لري چې هغه د قلندر بابا ( په سميزه لهجه بابو قلندر) په نوم دی چې د دواړو درو تر منځ د غزيدلو غرونو په شمال لويديځه اخيره برخه کې د خوست تر ټولو لوړې څوکې باندې شتون لري چې د خوست له ښار، نادرشاه کوټ، مندوزيو، باک، صبريو،تنيي، لکڼ او آن د کوزي پښتونخوا د ټل سيمې له دغه لوړ غر ښکاره معلوميږي، د قلندر بابا زيارت شاوخوا سميه ډېره جالبه منظره لري د مرغانو ښکلو اوازونه او

نرم شمال د انسان روح ته تازه والی وربښي، د قلندر بابا زیارت شمال لوري ته ریز او بیګالي کلي جنوب لوري ته کمران کلی، ختیځ لوري ته خوست میله او لنډرې کلي لودیځ لوري ته غرونه لویه لړۍ شتون لري. د دغه زیارت په مورد مختلف روایاتونه موجود دي یو نظر دادی چې دلته یو والي (سمیزه لهجه ښه سړی) دفن شوی، بل روایت دا دی چې دلته کوم والي (پیر) ناسته او ژوند کړی، مړ شوی او دفن شوی دی او دوهم قول یقیني ښکاري، قلندر بابا زیارت ته پیاده مزل له یو طرف څخه تقریباً دوه ساعته وخت نیسي خو مزل یې ستړی کوونکی ندی، دغه لوړ غر او د هغه څوکه ډېره یخه هوا لري او ډېر وخت هلته واره وي، د ورتګ لپاره د کال اووه میاشتې مناسبې دي چې د پسرلي وروستۍ دوه میاشتو څخه د اوړي تر اخېرو وختونو پورې ورتلل ممکن دي، په اوسط ډول د کال دغه زیارت ته (100-700) سمیز سیلانیان د تبارک او سیاحت لپاره ورته راځي، د اوړي په موسم د همدغه زیارت لاندې برخه کې د ولو څپیر په نوم بانډه چیان او مالداران میشت کیږي، د قلندر بابا زیارت شاوخوا سیمې په ګڼو ځنګلونو چې لمنځې، جعلوزي، نښتر، صرف او څېړیو باندې پوښل شوي. د غره په دغه لوړه څوکه زیارت مقبره ښکلي جوړه شوي او کوچنی اطاق هم ورسره رغول شوی د زیارت لاندې برخه (ولو چپیر) کې یخو اوبو چینه هم شتون لري.

## قلندر ولسوالۍ نفوس

د قلندر ولسوالي چې په جعرافیوي لحاظ غرنۍ ده ډېر کلي یې د غرونو په لمن او څوکو باندې جوړ شوي، د موټرو لار یې د خوړ پر مسیر وه چې د سیلابونو په راتلو سره به تخریب او بنده وه چې وروستیو کلونو کې دغو دواړو درو ته سرکونه په ډېر ټیټ کیفیت جوړ شوي چې ډېری برخې یې تخریب شوي دي، سړکونه یې د کوچنیو موټرو لپاره ستونزمن دي، هوا یې د مني او ژمي په موسم کې یخه لارې د وارو او یخ له امله بندې وي او د ژوند کولو لپاره ښه فرصتونه نلري، خلک یې د خوست موسی خېلو، مندوزیو، تنیو، عالي شیرو، باک ولسوالیو او مرکز لکڼ، شمل او متون اړوند سیمو ته کډه شوي، خلک یې په کرنه، مالداري او ځنګلونو وهنه باندې د ژوند ستونزې حل کوي، ډېر کم وګړي یې د حلیج په هیوادونو کې مزدورۍ کوي د قلندر ولسوالۍ په دواړو درو کې (23) کلي موجود دي، په تقریبي توګه د قلندر ولسوالۍ نفوس له (9000-13000) کسانو پورې دی.

## بیارغونه

قلندر ولسوالي د خوست ولایت تر ټولو محرومه ولسوالي ده، د دواړو درو سړکونه خام او په غیر معیاري شکل جوړ شوي چې ډېرې برخې تخریب شوي دي، د مشتې درې تر نمایي ( اسمان کوټ) کلي پورې سرک د دولت لخوا جوړ شوی چې له هغې وروسته به د خوړ له لارې موټرو تګ راتګ کاوه چې کوچنیو موټرو لپاره ستونزمن ؤ، د سیمې خلکو له حکومت څخه د بار بار غوښتنو وروسته ناهیلي او په خپله یې د سرک جوړولو تکل وکړ، د ریز، مزري درې، مل، شریفي او بیګالي کلیو خلکو په خپل شخصي لګښت سره له آسمان کوټ کلي څخه د هغوي تر کلیو پورې سرک جوړ کړ چې د کیفیت په لحاظ معیاري ندی جوړ شوی. د قلندر ولسوالۍ ښوونځي تعمیرونه نلري یوازې د سترکوټ په نوم لیسه د ابتدایې تعمیر لري، کلینکونه یې هم هیڅ تعمیر نلري، سربندونو او ویالو برخه کې هیڅ کار ندی شوی. د مخابراتي شبکو هیڅ انتن (شبکه ) پدغه ولسوالۍ کې نده نصب شوي.

## معارف او روغتیا

د قلندر ولسوالۍ خلک عامه خدمتونو ته کم لاسرسی لري، اساسي خدمتونه (معارف او روغتیا) یې هم په نشت حساب دي، د قلندر په ولسوالۍ کې په مجموعې توګه (9) دي ټول ښوونځي او مدرسي یې تعمیر نلري یوازې د سترکوټ لیسه کوچنی د ابتدایي تعمیر لري چې د زده کوونکو لپاره کفایت نکوي، په قلندر ولسوالۍ کې یوه لیسه، یو منځني ښوونځي، څلور ابتدایې او درې رسمي دیني مدرسي شتون او درې غیر رسمي مدرسې شتون لري، د قلندر ولسوالۍ د معارف ټول رسمي سټاف (70) شاوخوا دی چې د زده کوونکو شمیر یې تقریباً (2500) دی، د نجونو لپاره یو ابتدایه ښوونځی هم لري، د قلندر ولسوالۍ خلک د معارف سره مینه لري او خپل اولادونه (نارینه او ښځینه) یې په ښوونځیو کې شامل کړي دي، د دولتي ښوونځیو تر څنګ غیر دولتي موسساتو هم محلي ټولګۍ ایجاد کړي دي، زده کوونکي یې د ونو د سیوري لاندې درسونه وايي د باران پر مهال یې درسي بهیر له ستونزو سره مخ شي، سیلابونه هم د هغوي ښوونځي ته د تګ په برخه کې خنډ جوړیږي، د ولسوالۍ نفوس لپاره یې تشکیل او خدمتونه کافي ندي، په قلندر ولسوالۍ کې خصوصي ښوونځي نشته، (3) غیر رسمي مدرسې هم شتون لري.

**د سترکوټ لیسه** د سترکوټ مندتې کاځ کې، منځنی ښوونځي په خوست میله ، ابتدایه ښوونځي په کمران، تورښاره، کوټکي او شریفي کلیو کې شتون لري، د نجونو ابتدایه د کوټکي په کلي کې فعالیت لري، رسمي دیني مدرسې په شریفي، تورښاره او لنډې کلیو کې مودې دي او د هغوي تر څنګ (3) غیر رسمي مدرسې په سترکوټ مندتې کاځ، تورښاره او شریفي کلیو کې جوړې شوي دي.



قلندر سترکوټ لیسه

د روغتیا خدمتونو په برخه کې هم د قلندر ولسوالۍ خلکو ډېر لږ کار شوی دی، د قلندر ولسوالۍ خلک ډېر کمو روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی لري، یو د (CHC) کلنیک لري چې په موسی خېلو ولسوالۍ کې فعالیت لري، (3) فرعي کوچني کلنیکونه چې په لنډي، توربناره او شریفي کلیو کې فعالیت لري خو له بده مرغه یو هم اساسي تعمیر نلري ټول یې په کرایي او غیر فني ودانیو کې کار کوي، د ولسوالۍ نفوس ته کتلو سره یې سټاف، توکي او درمل ډېر لږ دي د خلکو ستونزو ته په سمه توګه رسیده ګي نشي کولای، د قلندر ولسوالۍ زیاتره ناروغان د خوست ښار ته د تداویۍ لپاره راوړل کیږي چې له (3-6) ساعتونو لاري وهلو وروسته تر خوست ښار پورې رسیږي، د ناروغانو شخصي کلینیکونه هم شتون نلري یوازې درملتونونه ډېر په غیر معیاري توګه پرته له تشخیص څخه ناروغانو ته درمل ورکوي.

## کرنه او مالداري

د قلندر ولسوالۍ (90%) ځمکه په غرونو پوښل شویده د کرنې وړ ځمکه یې ډېره کمه ده خلک یې په خپلو ځمکو کې غنم، جوار، لوبیا الوګان... کري د ځمکو لپاره یې اوبه شته خو د سیلابونو په راوتلو سره یې سربندونه چې په معیاري ډول ندي جوړ شوي تخریب کیږي، د ځمکو د یوې کولو لپاره له تراکتور او حیواناتو څخه استفاده کوي، د ژمي په موسم کې یې فصلونو د وارو څخه زیانمن کیږي.

په قلندر ولسوالۍ کې انار، مڼې، چارمغز، جلغوزي، زردالو، توت، الوچې یې له مهمو میوه جاتو څخه ګڼل کیږي.

د قلندر ولسوالۍ جلعوزي د خاص اهميت څخه برخمن دي، په ځانګړي توګه د سترکوټ ژاوره، خوست ميلې نوکړی، ورغه او لنډي کليو جلغوزي نوم لري، په غرونو کې يې جلغوزي، لمنځې، نښتر، صرف، اوبښته، سفيدار، څيړۍ نباتات شتون لري، د قلندر ولسوالۍ کې د څيړۍ له لرګيو څخه سکاره هم جوړيدل چې ځانګړي بټۍ کې جوړيږي، د څيړيو ځنګلونه اکثريت وهل شوي چې په هماغه سيمو کې جلغوزي او نور ځنګلي نباتات را زرغون شوي دي.

د قلندر ولسوالۍ په ځنګلونو کې وخشي حيوانات شتون لري چې د هغوي له جملې زمري، ليوان، پړانګ، خنځير، يږه، ګيدړ... شتون لري چې د مزري يا زمري درې کلې په همدې سبب چې هلته پخوا ډېر زمريان ؤ نومول شوی دی، همدارنګه غرنۍ چرګې، هوسۍ او ښلابېل الوتونکي د قلندر ولسوالۍ په ځنګلونو کې شتون لري.



## قومي جوړښت

د منګلـو قوم په عمومي تـوګه په دؤ برخو (جاني خيل او موسی خېل ) باندې ويشل شوي، موسی خېل بيا په پنځو قومونو ( خوجوړي، ميرالخېل، ايوبي، ايخېل ايوب خېل، موګي کمال خېل ) او يو کوچنی قوم د مني خېلو باندې ويشل شويدی.

د قلندر په ولسوالۍ کې د موسی خېلو قوم د ميرالخېلو او خوجوړيو پرته نور ټول قومونه موجود دي، د هغوي له جملې څخه د ايوبيو قوم دوه پلرينې يا خېلونه په خوست ميله، سرواني او مل کليو کې ميشت دي، ايخېل په کوټکي، منه، سترکوټ او تورښاره کې اوسيږي، ايوبخېل په تورښاره، عاليګا، اسمان کوټ، مزري دره او بيګالي کې اوسيږي، د موګيو

قوم په کمران، شینکی، درویښی، پنگه او سترکوټ کې مېشت دي، کمال خېل په لنډي، ورغه، سترکوټ، لنډره، شریفی او میلوګي کلیو کې استوګن دي، کوچنی قوم مني خېل په سترکوټ، تورښاره او مني خیلو کلیو کې اوسیږي. د سترکوټ په کلي کې (3) میرالخېل هم استوګنه لري. د قلندر ولسوالۍ د خلکو تر منځ حساب لپاره (6) ټالو یا برخو باندې ویشل کیږي چې (3) په میشته او (3) په قلندر دره کې شتون لري، د میشتې درې یوه ټاله خوست میله، سروانی او ریز، دوهمه ټاله تورښاره او لنډره، دریمه ټاله شریفی، بیګالی، مل او مزري دره، د قلندر ولسوالۍ د قلندر دره هم درې درې لري چې لومړۍ ټاله یې منه او لنډی، ورغه، سترکوټ، منیخیل او ایخیل، دریمه ټاله کمران، پنګه، درویښی، شینکی او پنګه.

## د قلندر ولسوالۍ مشهور مشران

د قلندر ولسوالۍ په سطحه محور او مشهور مشران چې په قومي او ټولنیزو مسایلو کې مهم رول لوبولی دی او د هغوي نومونه د سیمي په کچه مشور دي، د هغوي له جملې څخه بوبرا خون، ملا ببلې او زورتر خون د سترکوټ کلي، دین ګل، مزامېل، ملا قاسم، موسی خان، مل الدین، دین ګی، لعل خون او ګلوب الدین د خوست میلې او سرواني کلیو، حضرات خون ورغه کلي، عظیم خون د مل کلي، مندلې او مارخ د لنډرې کلي، جون، ګولی د تورښاره کلي، ادم خان د بیګالي کلي، شاجک، یونم او سیلي ګی د شریفي کلي، الیف ګی او سالم د لنډی کلي، سناتور دریخیل شینکي کلي، وکیل منګل کمران کلي او داسې نور مشران د یادونې وړ دي او د قلندر ولسوالۍ خلک د هغوي نومونه په احترام سره یادوي. د قلندر ولسوالۍ پخواني مشهور هنرمندان میرام ګل، بخترخون، تورک، خونا الدین او سیفل نومونه یادولی شو.

د قلندر ولسوالۍ شپږ د جامع جوماتونه او نور زیات کوچني جوماتونه شتون لري، د خوست میلې، شریفي، تورښاره، لنډي، ستر کوټ او شینکي کلي کې د جامع جوماتونه موجود دي.

***

## پای

## لیکنه او راټولونه: طایب الدین بریال